# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۱۵مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر اوومه | ۴۴۰مه ګڼه


## هېواد

۴ مخ

### سوریه

د دغه هېواد ۲۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۱۸ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.



### په کندهار کې د شاتو مچیو د روزنې کاروبار په غوړېدو دی



کندهار چې د هېواد د نورو ولایتونو په څېر یو کرنیز ولایت دی، دا مهال د کرنې او مالدارۍ په برخه کې هڅې پکې ګړندۍ شوې دي، چې د نورو برخو ترڅنګ په دې ولایت کې د شاتو مچیو د روزنې کاروبار هم غوړېدلی دی. په کندهار کې د شاتو د تولید وخت را رسېدلی او دلته د شته لسګونو فارمونو د مچیو حاصل د نورو کلونو په پرتله زیات ښودل شوی دی.
په کندهار کې د مچیو د روزنې زمینه مساعده ده او دا مهال د هېواد له نورو ولایتونو څخه ډېرو کسانو مچۍ کندهار ته راوړې دي چې دلته یې روزنه وکړي او ترې ښه شات تر لاسه کړي.
د افغانستان سوچه شات په کور دننه او له هېواده بهر په میلیونونو پېرودونکي لري.

## د امریکا او طالبانو مذاکرات؛

## یوولس طالب زندانیان د دریو هندي انجنیرانو په بدل کې خوشې شوي دي




د اکتوبر اوومه، زموږ د اوسنۍ بدمرغۍ پیل

۲ مخ

له ټاکنو وروسته؛ سوله که جګړه؟

۲ مخ

ما ولې رایه ور نه کړه؟

۳ مخ


## سیاسي احزاب: طالبان دې له افغان سیاسي جهتونو سره مذاکرات پیل کړي

په سیمه ییزه او نړیواله کچه د طالبانو او متحده ایالتونو ترمنځ د سولې ځنډېدلو مذاکراتو د پیل لپاره د هلو ځلو له چټکېدو سره هممهاله د سولې پروسې په اړه د ارګ او بهرنیو چارو وزارت ترمنځ ناندریو وښوده، چې حکومت د سولې پروسې په باب واحد دریځ نه لري.
طالبانو هم په حکومت کې د متضادو دریځونو په اړه په یوه اعلامیه کې ویلي، چې دغو موقف ګیریو وښوده چې افغان حکومت د سولې د خبرو او پرېکړو ورتیا نه لري او په ډېره موده کې یې یو مذاکراتي ټیم هم جوړ نه شو کړای.
بل لور ته سیاسي ګوندونه وایي، حکومت د سولې په ګډون په سترو ملي مسایلو کې له ګډوډیو سره مخ دی، نو طالبان دې له مطرح افغان سیاسي جهتونو سره مذاکرات پیل کړي.
د سولې او پرمختګ اسلامي ګوند رییس عزیزالله دین محمد وایي: «که حکومت همداسې په ګډوډۍ کې وي، نو بیا به د افغانستان خلک او ولس چې په زحمت او تکلیف کې دي، دا مذاکرات وکړي».
سیاسي شخصیتونه او جریانونه پر دې باور دي، چې د طالبانو په ګډون هېڅ لورې پر حکومت اعتماد نه لري. دوی وایي، د سولې مذاکرات دې د انتخاباتو د نتایجو تر اعلان وروسته تر سره شي او که نه، د سولې خبرو لپاره دې موقت حکومت رامنځته شي. د بین الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره د سیاسي ګوندونو وړاندیزونو په داسې حال کې مطرح کېږي، چې طالبانو ویلي، د سولې په اړه د حکومت واحد دریځ نه لرلو له امله دوی اړ دي، چې له افغان سیاسونو سره مذاکرات پیل کړي.

## هغه کارکوونکي به ځارنوالۍ ته معرفي کړو چې د رایو په پایلو کې یې لاسوهنه کړې وي



۲ مخ

## ارګ: صبغت احمدی به دلیل اظهارات «غیر مسؤلانه» اخیرش برکنار شده‌است



ارگ ریاست جمهوری می‌گوید که صبغت احمدی به دلیل اظهارات «غیر مسؤلانه» اخیرش دربارۀ سفر طالبان به پاکستان از سمت سخن‌گویی وزارت خارجه برکنار شده‌است.
صدیق صدیقی، سخن‌گوی رئیس‌جمهور می‌گوید که میرویس ناب، سفیر پیشین افغانستان در ترکمنستان که به تازه‌گی به‌حیث معین همکاری‌های اقتصادی وزارت خارجه تعیین شده‌است، از امور دفتر سخن‌گویی وزارت خارجه سرپرستی خواهد کرد. آقای صدیقی، پس از چاشت دیروز در تویترش نگاشت: «رئیس‌جمهور غنی طی حکمی آقای میرویس ناب سفیر اسبق افغانستان در ترکمنستان را به حیث معین همکاری‌های اقتصادی وزارت امور خارجه تعیین کرد. وی همچنان الی تقرر سخن‌گوی جدید این وزارت از امور دفتر سخن‌گوی سرپرستی خواهد نمود. سرپرست سخن‌گوی اسبق به دلیل اظهارات غیرمسؤلانه‌اش برکنار گردید».
در پی سفر اخیر هیئت طالبان به پاکستان، صبغت احمدی گفت که وزارت خارجه از تلاش‌های پاکستان برای صلح افغانستان و میزبانی از این گروه استقبال می‌کند. این در حالی بود که پیش از آن، ارگ ریاست‌جمهوری میزبانی پاکستان از طالبان را انتقاد کرده و گفته بود که این کار خلاف تمام اصول میان دو کشور است. دو روز پیش ادریس زمان، معین سیاسی وزارت خارجه نیز اعلام کرد که سخنان آقای احمدی، نه به نمایندەگی از وزارت خارجه، بلکه اظهارات شخصی خودش بوده‌است.




دریــځ

## د اکټوبر اوومه، زموږ د اوسنۍ بدمرغۍ پیل

نـن د اکټوبـر اوومـه او د افغانسـتان د معاصر تاریـخ یـوه تـوره ورځ ده. لـه نـن څخـه پـوره ۱۸ کالـه وړانـدې امریـکا د سـپټمبر د یوولسـمې د بریدونـو پـه پلمـه، پـر افغانسـتان یرغـل وکـړ. د طالبانـو واکمنـي یـې ړنگـه کـړه او د جرمني پـه بـن کـې جـوړ شـوی حکومت یې پر افغانسـتان واکمـن کـړ. لـه برید اتلس کاله وروسته لا هم جگـړه روانـه ده، ښـځې، ماشـومان او بـې گنـاه وگـړي پکـې وژل کېږي.

د سـپټمبر د یوولسـمې پـه پېښـه کـې هېـڅ افغـان ښـکېل نـه و، خـو امریـکا پـر افغانسـتان یرغـل وکـړ. پـه هغـه پېښـه کـې شـاوخوا درې زره امریکایـان ووژل شـول، خـو امریـکا یـې غچ زمـوږ لـه بـې گنـاه وگـړو اخلـي. پـوره ۱۸ کالـه کېږي چـې مـوږ لـه امریکایـي وحشـت سره مخ یـو، سـلگونه زره افغانـان وژل شـوي، سـلگونه زره نـور ټپیـان شـوي دي او لسـگونه زره معیوب شـوي دي. امریـکا ۱۸ کالـه خپلـې نـوې او ممنوعـه وسـلې پـر افغانانـو اسـتعمال کـړې او ویـې ازمویلـې. د بمونـو مور یـې وکاروله، سرتېرو یـې د خلکـو پـه وژلو کـې نـوې تجربـې وکړې او پـر خلکـو یې نښـه ویشـتل زده کـړل. امریکایي وحشـیانو ۱۸ کاله د افغانسـتان په کلي کلي او کـور کـور کـې غـم خپـور کـړ، وحشـت یـې وکړ او لوټـه لوټـه او کاڼـي کاڼـي یـې پر وینـو رنگ کـړ.

دوی پـه ۲۰۰۱ ز کال کـې ویـل چـې لـه ترهگـرو ډلـو مـو خلاصـوو، خـو اوس وایـي چـې ۲۲ ترهگـرې ډلـې دلتـه فعالیـت کـوي. زمـوږ خـاوره یـې د ترهگـرو پـر مرکـز بدلـه کـړه. هغـه وخـت یـې ویـل چـې افغانسـتان لـه نشـه یـې توکـو خلاصـوو، خو اوس یې د نشـه یـې توکو پر مرکـز بـدل کـړی. ویـل یې چـې دولـت جوړونه کـوو، خـو دلته یې د نـړۍ تر ټولو فاسـد، ناکاره او بېکاره حکومت پـر مـوږ واکمـن کـړی. هغـه وخـت بـه یـې د ښـه راتلونکـي او اقتصادي ودې خبـرې کولـې. دا دی لـه ۱۸ کالـه اشـغال وروسـته هـم افغانسـتان لـه سـختو اقتصادي سـتونزو سره مـخ دی، خلـک تښـتي، ځوانـان اروپـا او نـورو هېوادونـو تـه ځانونه باسـي، څوک ورسـېږي او څـوک پـه سـیند کـې غـرق شـي، د ځینـو مړي سـاحل تـه راشي او ځینـې د بحري ژوو خـوراک شي. لـه امریکایـي یرغـل ۱۸ کالـه وروسـته هم په افغانسـتان کې ۵۷ سـلنه خلک د بېوزلـۍ تـر کرښـې لانـدې ژونـد کـوي او یـو څـو بیا د امریـکا پـه مرسـته د خلکـو پـه وینـو پـه جـوړو شـوو دنگو ماڼیـو او د ډېرینـو دیوالونو شـاته د عیش او عشرت ژونـد کـوي. امریکا موږ تـه د ډیموکراسـۍ د راوړلو ژمنـه کوله، خو اوس افغانسـتان د مافیـا، قاچاقبرو او د امریکایي قراردادیانـو پـه گـرو کـې دی. هغـوی چـې د امریـکا قراردادیـان دي، زور لـري، زر لـري، خلـک وژنـي، واک لـري او تـر بل هر چا په لوړه کچه پـه حکومت، پارلمان او خصوصي سکټور کـې واکمـن دي.

د امریکایـي یرغـل پایلـې مـوږ تـه مرگونـې وې. امریکایـي یرغـل او حضـور زمـوږ لپـاره لـه بدبختیـو ډک دی. لـه بـده مرغـه دغـه حضـور لا هـم زمـوږ امنیت، ثبـات، اقتصـاد، خپلواکي، راتلونکـی او هـر څـه لـه گـواښ سره مـخ کـړي. دوی لا هـم غـواړي چـې مـوږ ووژل شـو، وږي شـو، هېـواد پرېـږدو او د دوی د گټـو قربانـي شـو. پـکار ده چـې اوس مـوږ سـترگې پرانیـزو او نـور لـه امریکایـي حضـور او وحشـت څخـه د ځـان خلاصونـې معقولـې او کارنـده لارې وکـاروو. پکار ده چې د یوې داسـې سـولې لپاره لاسـونه ورکـړو چـې د ټولـو بهرنیانو د لاسـوهنې مخـه ونیسـي او مـوږ د خپـل حکومت، عزت او سرلوړۍ لـوري تـه ولاړ شـو.

# له ټاکنو وروسته؛ سوله که جگړه؟

لیکوال: اجمل جلال - د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز غړی

د میـزان پـه شـپږمه، پـه تېـرو ۱۸ کلونـو کـې څلـورم ځـل د افغانسـتان د ولسـمشر د انتخـاب لپـاره، خلکـو د رایـو صندوقونـه ډک کـړل. ولې دا ځل د اشـتراک سـطحه ډېـره ټیټـه وه. د دې کمـزوري گـډون لامل امنیتـي سـتونزې هـم وې، خـو دا یوازینی لامـل نـه و. خلـک د کاندیدانـو پـر وعـدو، پروگرامونـو او د ټیمونو پر تشـکیل بې باوره وو. پـه همـدې دلیل حتی پـه هغو ولایتونو کـې چـې نسـبي امنیـت هـم موجـود و، خلـک لـه کورونـو را ونـه وتـل، چـې دا لـه ټاکنـو سره د عمومـي بایکاټ مانـا لـري.

د ټاکنـو عـام بایکاټ یـوې ډېـرې مهمـې مسـئلې تـه اشـاره کـوي او هغـه دا چـې خلـک د روان وضعیـت بنیـادي تغیـر غـواړي. روان امنیتـي بـد وضعیـت، قتـل، بمبـارۍ، انفجـار او کمـزوری اقتصـادي وضعیـت بایـد نـور بـدل شـي. د وضعیـت د تغیـر لپـاره خلـک نـور پـر پنځـو کلنـو او لسـو کلنـو تیوریکـو بحثونـو او پروگرامونـو بـاور نـه لـري. ولس عملـي او عاجـل اقدام غـواړي. خلـک غـواړي چې جگـړه ژر تر ژره ودرېـږي، ځکـه څو چې جنـگ روان وي، د هـر ډول مثبت اقتصـادي او ټولنیز تغیر په اړه خبـره کـول بـې مانـا ښـکاري.

د جگـړې د درولـو لپـاره د امریکا او طالبانو تـر منـځ نهـه میاشـتې مذاکـرات وشـول چـې د سـولې پـه اړه د خلکـو لپـاره ښـه زیـری و؛ خـو دا مذاکرات بالاخـره ودرېدل. د مذاکراتـو د درېدلـو لاملونـه مشـخصاً دا وو: پـه داخـل د امریـکا کـې د جنـگ غوښـتونکو لابـي گرانـو او نـورو مقاماتـو تـر منـځ لـه طالبانـو سره د سـولې پـر سر اختـلاف؛ د افغانسـتان د دولت نارضایتي او د بین‌الافغـاني مذاکراتـو د پیلولـو او څرنگـوالي پـه اړه د طالـب اسـتازو، افغـان حکومـت او امریـکا تـر منـځ د نظر تفاوت.

داسـې ښـکاري چـې امریـکا ونـه کـړای شـول چـې د بین‌الافغـاني مذاکراتو د پیل او څرنگـوالي لپـاره یـا افغان حکومت او یا هـم طالبانـو تـه قناعـت ورکـړي، چـې دا د مذاکراتـو د درېدلـو تـر ټولـو لـوی لامـل اټـکل کیـږي. امریـکا او طالبانو په ضمني او صریحـه توگـه غوښـتل چـې د سـولې خبـرې لومړی یوې پایلې ته ورسـیږي، خو پـه مقابل کـې ولسـمشر غني غوښـتل چې ټاکنـې تر سره شي او وروسـته بیا د سـولې پروسـه مـخ تـه یـوړل شـي.

اوس چـې ټاکنـې وشـوې او د سـولې پـه مقابـل کـې هغـه لـوی خنډ او د اختـلاف ټکـی لـه منځـه لاړ، د راتلونکـي وضعیت پـه اړه دوو احتمـالي سـناریوگانو تـه اشـاره کېـدای شـي.

یـوه احتمـالي سـناریو دا ده چـې انتخابات بـه جنجـالي شي او د درغلیـو له املـه به د ټاکنـو خپلـواک کمېسـیون ونـه شي کړای چـې پـه لومړۍ مرحله کـې گټونکی اعلان کـړي. د درغلیو او تقلب له کبله که ټاکنې دویـم پړاو ته لاړې شي، نـو د خلکو باور به لا زیات زیانمن شي او د اشـتراک سـطحه بـه نـوره هـم ټیټـه شي. پـه داسـې حالـت کـې کېـدای شي یـا دویـم پړاو گټونکـی ولـري او یـا د ټاکنیـز بحـران لـه کبلـه د موجـوده حکومـت دوام تـه لار هـواره شي. پـه دا ډول حالاتـو کې بـه دولت د مشروعیت لـه بحـران سره مخ وي، پـه داسـې حالـت کـې بـه د حکومـت یوازینـی ماموریـت د سـولې د راوسـتو لپـاره مذاکراتـو تـه غـاړه اېښـودل وي.

د نهـو میاشـتو مذاکراتـو ناڅاپـي درېـدل، د ټاکنـو پـه اړه د پاکسـتان مثبـت دریځ او د طالبانـو لخـوا د ټاکنـو پـر ورځ کـوم لوی بریـد نـه کېـدل، دا پـه گوتـه کـوي چـې اشرف غني پرېښـودل شو څو خپله خوښه سر تـه ورسـوي او ټاکنـې تـر سره شي. خو دا چـې اوس بـه اشرف غنـي وکـړای شي احتمـالي بحرانونـه کنټـرول کـړي او کـه نـه؛ ډېر ژر بـه معلوم شي. دلتـه دومره ویل ضرور دي چـې هـر ډول احتمالي بحران د اشرف غنـي موقـف ضعیفـوي او مجبوروي یې چې د سـولې په اړه د امریکا د شرایطو مطابـق مـخ تـه لاړ شي او هغـه دا دي چې د طالبانـو شرایط به منل کیـږي او کېدای شي موقتـه اداره او یـا بـل داسـې حکومت چـې طالبـان پـه کـې رغنـده رول ولـري، رامنـځ تـه شي.

علاوتـاً، دا چـې د بحـران پـه رامنـځ ته کولو کـې بـه امریـکا عمدي هڅـې وکـړي او که نـه، سـخته ده چې یقیني ادعـا وشي. ولې کـه د ولسـمشر غنـي او امریـکا تـر منـځ د سـولې د خبرو پر سر وروسـتیو څو میاشـتو نانـدریـو تـه وکتـل شي او پـه تېـرو ورځـو کـې پـر افغان حکومت، د شـدید فسـاد له کبلـه، د امریکایـي چارواکـو او ادارو انتقاد پـه نظـر کـې ونیـول شي، نـو دا احتـمال چـې امریـکا بـه عمـداً د اشرف غني موقف ضعیـف کـړي، لـه امـکان لـرې نه ښـکاري.

دویمـه احتمـالي سـناریو دا ده چې ټاکنې کـوم شـدید جنجـال او بحران رامنـځ ته نه کـړي او گټونکـی معلـوم شي. راتلونکـی حکومـت بـه د مشروعیـت ادعـا کـوي، کـه څـه هـم پـه سـلو کـې بـه یـوازې د لسـو تنو لخـوا انتخـاب شـوی وي. پـه دې حالـت کـې بـه د سـولې پروسـه، کـه طالبـان لـه خپلـو ځینـو غوښـتنو تېـر نـه شي، لـه خنډ او ځنډ سره مـخ شي. همدارنگه که اشرف غنـي د ټاکنـو گټونکـی شي، نـو دی بـه پر هغـه پروگـرام تاکیـد کـوي چـې سـولې تـه یـې لـري. لـه طالبانـو سره د اشرف غنـي د سـولې طرحـه تـر ډېـره حده لـه گلبدین حکمتیار سره د سـولې طرحې تـه ورته ده. خـو طالبـان دا ډول سـوله د تسـلیمۍ پـه مانـا بـولي. په داسـې حالت کـې د جگړې د دوام احتـمال ډېـر دی.

کـه جگـړه دوام وکـړي او امریکا ونـه شي کـړای چـې اشرف غنـي تـه قناعـت ورکړي او یـا طالبـان د اشرف غنـي د سـولې پروگـرام د منلـو وړ ونـه بـولي، نـو کېـدای شي امریکایـي ځواکونـه یا د شـدید جنگ تابیـا ونیـسي او یـا هـم بـې لـه دې چـې توافـق تر لاسـه کـړي، له افغانسـتان څخه ووځـي. د جگـړې د تشـدد او یـا هـم لـه توافـق پرتـه وتـل، دواړه د افغانسـتان لپـاره د لا زیاتـو ناخوالـو او بحرانونـو زیـری دی. تـر ټولـو ښـه حـل هماغـه دی چـې لـه انتخاباتـو وروسـته حکومـت دې د ولـس غوښـتنې ته چـې سـوله ده، غـاړه کېږدي. بین‌الافغانـی مذاکراتـو ته دې زمینـه برابره او د سـولې پـه خاطـر دې موقـت حکومت ومنـي.

## ټاکنو کمېسیون: هغه کارکوونکي به څارنوالۍ ته معرفي کړو چې د رایو په پایلو کې یې لاسوهنه کړې وي




په ولسمشریزو ټاکنو کې د درغلیو له تورونو وروسته، د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، ټول هغه کارکوونکي به څارنوالۍ ته ور وپېژني چې په رای پاڼو، پایلو او بایومټریک دستگاوو کې یې لاسوهنه کړې وي.

د دغه کمېسیون کمېشنر اورنگزېب په کابل کې خبریالانو ته ویلي: «د بېلگې په توگه، د محل رییس ریزلټ شیټ کې ۱۵۰ رایې رسوي، دا ۱۵۰ رایې د بایومټریک مامور د ریزلټ شیټ له مخې بایومټریک دستگاه ته رسوي چې زموږ معتبرې رایې ۱۵۰ دي، داسې مهال چې بایومټریک دستگاه دا معلومولی شي چې دستگاه کې ۱۰۰ رایې دي، که کارکوونکي دا کار سهواً کړی وي یا هم قصداً، خو موږ پوهېږو چې کوم مرکز یا هم محل کې دا کار شوی دی، موږ به د دې مرکز یا محل کار کوونکی څارنوالۍ ته معرفي کړو».

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې ځینو انتخاباتي ټکټونو ویلي وو چې د تلې په شپږمه د ځینو کاندیدانو په گټه درغلي شوې، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا وایي چې پاکې او ناپاکې رایې به یو له بله جلا کړي.

په ورته وخت کې د افغانستان د رڼو ټاکنو بنسټ یا ټیفا ویلي، د ټاکنیزو پایلو په پاڼو کې لاسوهنه جرم دی او باید عاملان یې مجازات شي.

د دغه بنسټ ویاند زبیر حبیب زاده په دې تړاو ازادي راډیو ته ویلي: «دا هم د انتخاباتي جرایمو له ډلې شمېرل کېږي چې باید جدي ونیول شي، که دا لاسوهنه قصدي وي، باید له اړوندو ادارو سره شریکه شي، څو د دې بهیر روڼتیا تضمین کړي».

بلخوا د ټاکنو خپلواک کمېسیون ټینگار کوي چې د هغو مرکزونو یا هم محلونو رایې به باطلې اعلان کړي، چې بایومټریک دستگاوې یې ورکې دي.

د دغه کمېسیون کمېشنرې رحیمې ظریفي ازادي راډیو ته ویلي، هغه کسان چې د بایومټریک دستگاوو په ورکېدو کې لاس لري، څارنوالۍ ته به ور وپېژندل شي.

نوموړې ویلي: «په هغو سیمو کې چې بایومټریک دستگاوې په هر ډول ورکې شوې وي، خلکو سره به یې شریک کړو، باید ووایم، په هغو سیمو کې چې موږ بایومټریک دستگاوې ونه لرو، رایې یې نه شمېرل کېږي».

که څه هم ظریفي د ورکو شویو بایومټریک دستگاوو د شمېر په اړه څه نه دي ویلي، خو د شنبې په ورځ د یاد کمېسیون یوه بل کمېشنر مولانا عبدالله وویل چې تر دې مهاله یې د ۷ بایومټریک دستگاوو د ورکېدو خبر تر لاسه کړی دی.

## بشري حقونو کمېسیون: په ځینو ولایتونو کې د شکایتونو کمېسیون غړیتوب نه دی راکړی



د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویلي چې د ټاکنیزو شکایتونو په ځینو ولایتي کمېسیونونو کې دوی ته غړیتوب نه دی ورکړل شوی.

دغه کمېسیون زیاتوي چې د ټاکنو قانون له مخې، د ټاکنیزو شکایتونو د ولایتي کمېسیونونو په درېو غړو کې باید یو غړی د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وي.

د ټاکنو قانون په ۳۱مه ماده کې راغلي چې د شکایتونو ولایتي کمېسیونونه درې غړي لري چې دوه یې جنسیتي ترکیب ته په پام سره (یوه ښځه او یو نارینه) د شکایتونو د مرکزي کمېسیون لخوا او یو غړی یې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وي چې د شکایتونو د مرکزي کمېسیون پر وړاندیز، د ولسمشر په منظورۍ مقررېږي.

خو د بشري حقونو خپلواک کمېسیون کمېشنر او ویاند ډاکتر شکرالله مشکور ویلي، د شکایتونو په ارزونه کې د روڼوالي په موخه، د شکایتونو په ولایتي کمېسیون کې یو کس د بشري حقونو خپلواک کمېسیون لخوا معرفي کېږي.

هغه ویلي چې په ډېرو ولایتونو کې دغه کار تر سره شوی، خو په ځینو ولایتونو کې سره له دې چې دوی کسان معرفي کړي، خو د شکایتونو کمېسیون پر دندو نه دي گومارلي.

مشکور ویلي چې دا ستونزه په کابل، بامیان، فاریاب، نیمروز او بادغیس کې رامنځته شوې ده.

د نوموړي په خبره، دوی د یادو ولایتونو لپاره خپل کسان معرفي کړي، خو تر اوسه کمېسیون نه دي مؤظف کړي چې په دې سره د شکایتونو څېړل او ارزونه تر پوښتنې لاندې راځي.

بل خوا بیا د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون یو کمېشنر قطب الدین رویدار ویلي چې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون دوی ته ۳٤ کسان معرفي کړي وو، خو څو تنو یې بېرته استعفا ورکړه.

هغه زیاته کړې چې کمېسیون اوس نور کسان معرفي کړي، خو ترڅو یې چې له ولسمشره منظوري راځي، دوی څو کسان ریزرف موقتي کسان اړوندو ولایتونو ته معرفي کړي دي.

رویدار ویلي، هر کله چې د ولسمشر لخوا نوي منظور شوي کسان راغلل، د موقتي کسانو پر ځای به پر دندو وگومارل شي.

خو د بشري حقونو کمېسیون یوې غړې د نوم نه ښودو په شرط پژواک ته ویلي چې دوی استعفا ته اړ کړل شوي او په خپله خوښه یې استعفا نه ده ورکړې.

نوموړې دغه راز ادعا کړې چې د شکایتونو کمېسیون لخوا له دوی سره سلیقوي چلند کېده؛ ځکه یې استعفا ورکړه او د شکایتونو کمېسیون د خپلې خوښې کسان معرفي کړي دي.

خو د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون کمېشنر قطب الدین رویدار دا ادعاوې رد کړې دي.

# ما ولې رایه ور نه کړه؟

لیکنه: زاهد جلالي

فرض کړئ چې یوه ستره سمندري بېړۍ له خلکو ډکه ده او سمندر کې په کوم ځانگړي لوري مزل کوي. د بېړۍ د مدیریت لپاره او منزل ته د رسېدو په خاطر باید ټول کسان راټول کړل شي او مشوره ورسره وشي او که یوازې متخصص کسان چې په دغه برخه کې مؤظف دي او پوهېږي؟ ارسطو په دغه مثال د ډیموکراسۍ او ټاکنو عیب بیانوي. هغه ډیموکراسي له داسې حالت سره تشبیه کوي، چې همدا بېړۍ د ټولو خلکو لخوا په یوه نامعلوم لوري روانه وي او د متخصص پر ځای هر څوک په کې خپل نظر او رایه کاروي.

هغه د مشر د انتخاب په اړه یو بل جالب مثال لري. وايي، فرض کړئ ټاکنو کې یو ډاکټر کاندید دی، چې تل یې خلکو ته ترخې دواوې ورکړې او پیچکارۍ یې ورته لگولې دي. د ډاکټر رقیب د مټایانو او خوږو دوکاندار دی، خلکو ته د کمپاین پر مهال به د خوږو دوکاندار وايي چې ما خو ټول عمر په تاسې خواږه خوړلي او خوشاله مې ساتلي یاست. که ډاکټر خلکو ته وايي چې زما د ترخو دواوو او پیچکاریو تر شا حکمت و او ستاسې روغتیا مې غوښته، څوک یې نه ورسره مني. خلک حتماً او طبعاً د مټایانو دوکاندار ته رایه ورکوي.

دا کیسه په دې رایاده شوه چې یوه شاعر د تېرو ټاکنو په اړه پر خپله پاڼه لیکلي وو: «چې جمهوریت نه وي، انسانیت نشته؛ چې انسانیت نه وي بیا نو سوله یا نه سوله څه فرق کوي؟ زموږ خارجي او داخلي دښمن اصلاً زموږ له انسانیت سره ستونزه لري». موږ رایه ور نه کړه، خو چوپه خوله وو، نه مو گوتې تورې کړې، نه مخونه. خو چا چې گوتې تورې کړې، موږ محکوموي او مجبوروي مو چې خپل غږ پورته کړو. ستونزه هماغه د برټرانډ راسل خبره ده. څوک چې څومره لږ پوهېږي، همغومره ډېرې نارې وهي او هماغه اندازه پورته ټوپونه وهي.

زموږ ټولنه د فکري فقر او مظلومیت په داسې حالت کې ده چې یو چا چې ټول عمر شاعري کړې او له غرب څخه د راغلي کم سواده و نیم سواده له ماسټرۍ متاثر دی، هغه موږ ته د انسانیت معیارونه ټاکي. له داسې کس څخه تر دې لوړه توقع نه کېږي چې ټاکنې او ډیموکراسي د انسانیت ستر معیار او ارزښت وبولي. خو ما رایه ور نه کړه او نه یې داسې حالت کې ورکوم. زه له دوی سره په داسې «انسانیت» کې نه یم، دا انسانیت دې همدوی ته بختور وي. ما ولې رایه ور نه کړه؟ ما ځکه رایه ور نه کړه چې زه په دغه سیستم له سر تر پایه قانع نه یم او ولې به قانع کېږم، په داسې حال کې چې په دغه نظام کې زما او تر پله لاندې د یوه پوډري رایه یو ډول ارزښت لري. زه به څنگه پر دغه سیستم قانع کېږم چې د اشرف غني رایه او په جوزجان کې د یوه داسې اتلس کلن ځوان رایې سره برابرې دي، چې ټول عمر یې شپنې کړې او ښایي پوه هم نه وي چې د دې وطن نظام څه ډول دی، څوک واکمن دی، اشرف غني څوک دی او رولا غني څوک؟

زه پر دغه سیستم نه یم باوري، زه یې له ریښو او منطق سره مخالف یم؛ خو له دې فکري او منطقي اختلافه چې راتېر شو او پر اوسنیو ټاکنو بحث وکړو. زه نه پوهېږم دا شاعر صاحب ما یا یو بل څوک څنگه قانع کوي چې دغه ډول پروسه کې برخه واخلم. د یوې شېبې لپاره به فرض کړو چې جمهوریت تر ټولو ښه نظام دی. خو آیا دغه څه چې دې وطن کې روان دي، هغه یې څنگه قانع کړی چې رایه ورکړي او نور څنگه ور دعوتوي؟

د افغانستان په څو دېرش میلیونه نفوس کې یوازې څه باندې دوو میلیونو کسانو د «انسانیت» په دغه پروسه کې برخه اخیستې ده او په دغه برخه والو کې بیا د یو پنځوس سلنه خلکو رایه د څومره خلکو رایه کېږي؟ د شاوخوا څو لکو خلکو رایه مشر ټاکي. خو کاشکي دغو څو لکو رایو هم یو ښه مشر ټاکلی. په دغو رایو کې فساد څومره دی؟ له واکمن کاندید پرته نور ټول نارې وهي چې «پراخ» او «سیستماتیک» فساد تر سره شوی دی. یانې ښایي د شاوخوا دریو- څلورو لکو کسانو رایه سمه وي او پاتې د فساد له لارې یو څوک مشر کېږي. خیر، دا به هم ومنو. په دغه حالت کې موږ خپله وینو چې کوم کسان چې په ټاکنو کې برخه اخلي او کوم په اصطلاح روښنفکران چې دغې پروسې ته خلک رابولي، دوی خپله څومره مخلص دي؟


ته څنگه له ما غوښتنه کوې چې د دغې مفسدې پروسې برخه شم، په داسې حال کې چې پخپله ما ته د مختلفو ټیمونو دوستانو دعوت راکړی چې له دغه ټیم سره شه، د گټلو په صورت کې دغه امتیازات او دغه دغه دندې شته. ته بیا په کومو سترگو دا ملي پروسه بولې او برخه اخیستل په کې ملي وجیبه او «انسانیت»؟

تر دې به هم تېر شو، په همدغو گډو وډو ټاکنو کې چې سیستم یې د منلو وړ نه دی، بیا د رایه اچوونکو برخه بیخي کمه ده او بیا په هغې کې رایې وېشل کېږي او په وېشل شویو رایو کې هم فساد کېږي او د پیسو په زور له کمپاینو وروسته یوه پروسه پای ته رسېږي، بیا دا څنگه توجیه کوې چې د یوه بهرني هېواد د بهرنیو چارو وزیر راځي او د دغې «ملي پروسې» او «انسانیت» د نتایجو له اعلان مخکې ولسمشر ټاکي او داسې څه کوي چې اساسي قانون ته پردي دي؟

زه ځکه رایه نه ورکوم، زه دا هر څه وینم، زه دغه ټولنه کې ژوند کوم او دغه کشمکش ما ته دومره ارزښت نه لري چې د ځان د ژوند په قیمت په یوه صندوق کې رایه واچوم. زه پر دې پروسې باور نه لرم. دا «ملي پروسه» او دا «انسانیت» دې همدغو شاعرانو او د دوی بې سواده و نیم سواده استادانو ته ورپاتې وي او د ټوکو او ملنډو دې پروسې ته دې همدوی ناڅي.

# د امریکا او طالبانو مذاکرات؛

## یوولس طالب زندانیان د دریو هندي انجنیرانو په بدل کې خوشې شوي دي



په پاکستان کې د امریکایي او طالب پلاوي تر خبرو اترو وروسته، تازه په افغانستان کې له طالبانو سره د زندانیانو تبادله شوې ده. طالب سرچینو رسنیو ته ویلي چې د دوی ۱۱ مهم مشران او قوماندانان د هندي انجنیرانو د خوشې کولو په مقابل کې خوشې شوي دي، خو دا لا نه ده روښانه چې د دغو بندیانو د خوشې کولو شرایط څه وو.

طالب پلاوي او د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت استازي زلمي خلیلزاد په پاکستان کې سره ولیدل او ویل کېدل چې د ځینو زندانیانو د تبادلې تر څنگ یې د سولې پر مسایلو هم خبرې کړې دي. تازه رسنیو داسې راپورونه خپاره کړي چې د طالبانو ۱۱ مهم مشران او وتلي قوماندانان د دریو هندي انجنیرانو په مقابل کې خوشې کړل شوي دي.

طالب سرچینو بي بي سي پښتو ته منلي چې په افغانستان کې یې ۱۱ بندیان له هغو دریو هندي انجنیرانو سره تبادله شوي، چې څه موده وړاندې په افغانستان کې د کار پر مهال تښتول شوي وو. سرچینې وايي، په خوشې شویو طالبانو کې د کونړ لپاره د دوی یو نومول شوی والي او ځینې نور قوماندانان دي. طالب سرچینو ویلي چې دوی د بندیانو د خلاصون پر مسئلې په اسلام آباد کې د افغانستان د سولې لپاره د امریکا له ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد سره خبرې کړې دي. هغه مهال په رسنیو کې داسې راپورونه خپاره شول چې گواکې طالبانو او امریکایي لوري د امریکایي پوهنتون د دوو تښتول شوو استادانو د خلاصون پر سر خبرې کړې دي؛ خو اوس د گنگوسو پر خلاف درې هندي انجنیران له ۱۱ مهمو طالب قوماندانانو سره تبادله شوي دي.

طالب سرچینې وايي چې په خوشې شوو کې د دریو مهمو کسانو هویت معلوم شوی، خو د نورو په اړه معلومات نشته دي. له دې ډلې د کونړ لپاره د طالبانو نومول شوی والي شیخ ابراهیم او د نیمروز لپاره د طالبانو نومول شوی والي مولوي عبدالرشید بلوڅ شامل دي. د دوی ترڅنگ، د حقاني کورنۍ یو غړی هم په خوشې شوو کسانو کې شته. دا کس عزیزالرحمن نومېږي او په احسان الله مشهور دی چې د سراج الدین حقاني خوریی کېږي او له ۱۲ کلونو راپدېخوا بندي و.

طالبان دا هم وايي چې د دغو کسانو د خلاصون په اړه له امریکایي لوري سره خبرې شوې وې، خو پر دې مسئله افغان حکومت تر اوسه غبرگون نه دی ښودلی. سره له دې چې تر دې مخکې هم افغان حکومت د طالبانو ځینې بندیان خوشې کړي وو، خو د تازه پېښې په اړه یې څه نه دي ویلي. امریکا او طالبانو د دوحې په مذاکراتو کې هم په ځلونو د بندیانو پر خوشې کولو بحثونه کړي وو.

ویل کېږي چې خوشې شوي کسان په بغلان ولایت کې طالبانو ته سپارل شوي. تر دې وړاندې په کابل د امریکایي پوهنتون د دوو تښتول شویو امریکایي پروفیسرانو خوشې کېدو ته تمه وه، خو داسې نه ښکاري چې طالبان او امریکایان تر اوسه په دې اړه کومې پایلې ته رسېدلي وي. اوسمهال له افغان حکومت سره د طالبانو یو لوړپوړی بندي چارواکی انس حقاني دی، چې د دې ډلې د یو مشر سراج الدین حقاني ورور دی او له څو کلونو راهیسې بندي دی.

تر اوسه لا پوره نه ده روښانه شوې چې طالبانو او امریکا به په پاکستان کې پر نورو کومو مواردو هوکړه کړې وي، خو ځینو رسنیو تازه ویلي چې د سولې د خبرو پر بیا پیل هم بحثونه شوي دي. رویټرز ته ځینو سرچینو ویلي چې زلمي خلیلزاد له طالبانو سره په لیدنه کې د نورو مسایلو تر څنگ، دا هم ویلي چې ښایي د سولې خبرې بیا پیل شي.




# اردوغان: ډېر ژر به د سوریې په شمال کې د«وای پي جي» ملېشو پر وړاندې پوځي عملیات پیل کړو

د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان خبرداری ورکړی چې ډېر ژر به د سوریې په شمال ختیځ کې چې زر امریکایي سرتېري هم پکې مېشت دي، پوځي عملیات پیل کړي.

ویل کېږي چې امریکایي سرتېري په دې سیمه کې له دې کبله ځای پر ځای شوي، چې د خپلو دوو متحدینو خو په خپلو کې رقیبانو (انقرې او د سوریې د کرد ځواکونو) ترمنځ کړکېچ کم کړي.

اردوغان په انقره کې د خپل واکمن گوند غړیو ته په وینا کې ویلي، چې دغه پوځي عملیات به ډېر ژر پیل شي.

اردوغان زیاته کړې: «موږ د دغو عملیاتو لپاره تیاری نیولی، موږ د خپلو عملیاتو پلانونه بشپړ کړي دي. موږ لازم امرونه هم ورکړي دي».

اردوغان دغه راز له خپلو متحدینو هم غوښتي چې د کردستان د کارگرانو گوند یا پي کې کې او د سوریې کرد ملېشو «وای پي جي» په تړاو خپل دریځ روښانه کړي.

د نوموړي له اعلان وروسته، د سوریې ډیموکراتیکو ځواکونو خبرداری ورکړی چې که انقره پرې هوایي او ځمکني بریدونه وکړي، د ترکیې پر وړاندې به پراخه جگړه پیل کړي.

له کردانو، عربانو او اشوري ملېشو څخه جوړ د سوریې ډیموکراتیک ځواکونه د هغه ائتلاف یوه برخه ده، چې د سوریې د حکومتي ځواکونو پر ضد جنگېږي.

دا په داسې حال کې ده چې د ترکیې ولسمشر بیا بیا په سیمه کې له کرد ځواکونو د واشنگټن د ملاتړ پر وړاندې خپله نارضایتي څرگنده کړې ده.

اردوغان داسې مهال په سوریه کې د پوځي عملیاتو خبرداری ورکوي چې واشنگټن ورسره د تېرې اگست میاشتې د هوکړې له مخې ژمنه کړې چې کرد ځواکونه به د ترکیې له پولو لرې ساتي.

د راپورونو له مخې، ترکیې له یوې میاشتې راهیسې خپل پوځي جزوتامونه او دفاعي تجهیزات دې سیمې ته د پرمختگ لپاره تیار کړي دي.

انقره د سوریې «وای پي جي» د کردستان د کارگرانو د گوند «پي کې کې» چې له ۳۵ کلونو راهیسې د ترکیې پر وړاندې وسله واله مبارزه کوي، یوه څانگه بولي.

په داسې حال کې چې انقره او واشنگټن دواړه پي کې کې ترهگره ډله بولي، خو واشنگټن بیا د سوریې «وای پي جي» کرد ملېشو ته چې د پوځي هڅو محور یې په سوریه کې پر داعش راڅرخي، په یو بل نظر گوري او د هغو ملاتړ کوي.

## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دوهمه برخه

پاکستان

### پنځم څپرکی
### له منځه تلونکي قومونه




((د الله ج په توفيق سره، موږ له افغان مجاهدينو سره اوږه پر اوږه د روسانو پر ضد وجنګېدو. وروسته، افغان پوځ د کفارو د لاس د الې په توګه زموږ پر وړاندې استعمال شو. افغان سرتېرو لمونځونه کول، روژې يې نيولې، خو بيا هم د نړۍ علماوو د هغوی پر ضد د جګړې فتوا ورکړه. پاکستاني علماء د هغو هڅو يوه برخه وه. کله چې روسان مات شول، همدې پاکستاني علماوو د شمالي ټلوالې پر ضد د طالبانو ملاتړ وکړ. د شمالي ټلوالې کسانو هم لمونځونه کول او روژې يې نيولې. ايا د پروېز مشرف، د هغه د پوځ، احمدشاه مسعود، برهان الدين رباني او عبدالرب رسول سياف تر منځ توپير شته؟
ځرګنده ده چې هېڅ توپير يې نشته. له هغوی څخه هر يوه يې د صليبيانو په خوښه د اسلام پر ضد جګړه کړې. د پروېز او د هغه د پوځ پر ضد چې څوک جګړه کوي، هغوی ته ناحقه وايي. په حقيقت کې د دې خلکو په زړونو کې يوه ناروغي ده. هغوی دا نړۍ له اخرت غوره ګڼي.))

**هر تنګی په اور کې سوځي**

د لعل مسجد پېښې په قبايلي سيمو کې د جګړې اور لا هم ځواکمن کړ، له دې سره جګړه له وزيرستان څخه را ووته، نورو درو ته يې هم لار پيدا کړه. باجوړ چې تر ټولو کوچنۍ ايجنسي ده، د جګړې په تر ټولو لوی مرکز بدله شوه. د باجوړ حاصلخېزه درې، د افغانستان په ختيځ کې د کنړ ولايت، د ملکنډ د غرنيو سيمو او د خيبر پښتونخوا ولايت د پېښور درې تر منځ، پرتې دي. دا ځای، د پښتنو د دې درو مېشت ځايونو طبعي مرکز دی.

دا ځای د خپل ستراتيژيک ارزښت له مخې په ۱۹۸۰ز لسيزه کې د افغان مجاهدينو اډه وه. خار ولسوالۍ ته نږدې يوه لويه کلا د جميل الرحمن اډه وه، هغه په کنړ کې تر ټولو لومړيو سلفي مجاهدينو له قومندانانو څخه و. د هغه د سرسختو پلويانو په سبب په دې سيمه کې د عربو نفوذ ډېر و. دا ځای په ۱۹۹۰ز لسيزه کې په ملکنډ کې مېشتې ډلې، تحريک نفاذ شريعت محمدي تر کنټرول لاندې راغی. جميل الرحمن او د تحريک نفاذ شريعت محمدي ځينو مشرانو د مولانا محمد طاهر په مدرسه کې زده کړې کړې وې، دا کس د شلمې پېړۍ يو پښتون عالم و، هغه د لومړي ځل لپاره ختيځو پښتنو ته سلفېزم راووړ. هغه په خپل پلرني کلي پنجپير کې يوه مدرسه پرانيسته، هلته يې د خالص سني اسلام تبليغ پيل کړ چې له سلفېزم سره نږدېوالی لري. د دې طريقې پلويانو ته پنجپيريان ويل کېږي.

د ۲۰۰۱ز کال په اکټوبر کې، د باجوړ علماوو په افغانستان کې د طالبانو پر ضد د امريکايي بريدونو په غبرګون لاريونونه وکړل. دې علماوو له باجوړ څخه د تحريک نفاذ شريعت محمدي ډلې په همکارۍ ۱۰۰۰ تنه غښتلي داوطلب جنګيالي افغانستان ته د طالبانو د ملاتړ په پار ولېږل. د وزيرستان په څېر باجوړ کې هم پاکستاني او امريکايي ځواکونه ونه توانېدل چې د طالبانو او القاعدې مخه ونيسي.

باجوړ ته د افراطيانو له راتګ سره د تحريک نفاذ شريعت اسلامي پخواني مرستيال، مولوي فقيرمحمد ډېره همکاري وکړه. ويل کېږي چې هغه له پنجپير مدرسې فارغ شوی و او په ۱۹۸۰ز لسيزه کې يې د روسانو ضد افغان جهاد کې هم برخه اخيستې وه. هغه د نورو طالب مشرانو په څېر د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر له ۱۱مې وړاندې ګُمنام و. هغه مهال نامتو شو چې کله ۲۰۰۵ز کال پاکستاني پوځيانو د هغه پر کور چاپه ووهله او له هغه ځايه يې په مردان کې د القاعدې مهم غړی ابو فراج اليبي ونيوه.

مولوي فقيرمحمد د چاپې پر مهال په کور نه و او ونه نيول شو. اليبي چې د القاعدې مهم عملياتي مشر و، هماغه مهال په باجوړ کې د مولوي فقير له يوې مدرسې د ليدنې پر مهال ونيول شو. د فقيرمحمد د له منځه وړلو لپاره ډېرې نورې هڅې هم وشوې. د ۲۰۰٦ز کال په جنوري کې د امريکا بې پيلوټه الوتکې په باجوړ کې پر يوه ختين کور بريد وکړ، هغوی ته راپور رسېدلی و چې ګني په دې کور کې د القاعده ډلې مرستيال ايمن الظواهري د ماښتن ډوډۍ پر مهال د مولوي فقير مېلمه و، خو دا خبره ناسمه وه. د ۲۰۰٦ز کال په اکټوبر کې د امريکايي بې پيلوټه الوتکې په بريد کې د محمد مرستيال مولانا لايق او د هغه د مدرسې اتيا زده کوونکي ووژل شول.

د ۲۰۰۷ز کال په پيل کې د مولانا فقير کسانو د باجوړ پر ډېرو برخو کنټرول ولګاوه. د همدې کال په نوومبر مياشت کې، مولانا فقير د پاکستان د دولت پر ضد د جګړې ليدلورې وړاندې کړ. هغه ويلي وو: ((طالبان قدرت نه غواړي. زموږ يوازينۍ موخه د سېسټم بدلول دي. ټول مجاهدين، القاعده، اسامه بن لادن او ځايي خلک نه غواړي پاکستان وران کړي. په حقيقت کې موږ ټول د هغوی پر وړاندې جګړه کوو چې له امريکا سره په ملګرتيا پاکستان تباه کوي.)) د ۲۰۰۷ز کال په ډسمبر کې، مولانا فقيرمحمد د پاکستاني طالبانو د تحريک مرستيال شو.

# سوریه

حشمت الله نوري




سوريه د آسيا په جنوب لوېديځ کې د مديترانې په وروستۍ ختيځه څنډه کې د منځنې ختيځ او د عربي منځنې ختيځ د هېوادونو په ډله کې د شمالي عرض البلدونو د ۳۲ او ۳۷ درجو او د ختيځ طول البلدونو د ۳٦ او ۴۲ درجو په مينځ کې موقعيت لري، چې پراخوالی يې ۷۱۴۹۸ ميل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ ۸۳يم لوی هېواد بلل کېږي.
د سوريې شمال ته ترکيه، جنوب ته عراق، ختيځ ته عراق او لوېديځ ته اسراييل، لبنان او د مديترانې سمندرګی پروت دی.
د دغه هېواد د لوېديځو سيمو هوا مديترانه‌يي او د ختيځو برخو هوا يې دښتې او ډېره توده ده. د سوريې په ختيځو سيمو کې کلنۍ اورښت ۱۰ انچه او په ساحلي برخو کې ۳۰ انچه ثبت شوی دی.
د دغه هېواد پلازمېنه د دمشق ښار دی او ټولټال يې نفوس څه کم ۱۹ ميليونو کسانو ته رسېږي، چې په هر کيلومتر مربع سيمه کې يې ۱۲۱ کسان ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې يوازې د دريو ماشومانو د درلودو حق لري.
سوريه د اداري وېش له پلوه پر ۱۴ ولايتونو وېشل شوې ده. سويدا، درعا، اليپو، حلب، لتاکيه، حمص، حماه او خان شامات د دغه هېواد مهم ښارونه دي.
د سوريې د حکومت ډول جمهوري دی، د دغه هېواد اساسي قانون د ۱۹۷۳ ز کال د مارچ په ۱۳مه تصويب شوی دی، په ۲۰۰۰ ز کال کې په دغه اساسي قانون کې لږ بدلونونه راغلل، چې د ولسمشر عمر له ۴۰ څخه ۳۵ ته ټيټ او په دې توګه واکمن ولسمشر ته د دويم ځلې کانديدۍ حق ورکړل شو. د سوريې اوسنی ولسمشر بشارالاسد او لومړی وزير يې عماد محمد خميس دی.
د سوريې ولسمشر د خلکو په خوښه د اوو کلونو لپاره ټاکل کيږي. په سوريه کې د ولسمشر مرستيالان، لومړی وزير، د لومړي وزير مرستيالان او د کابينې غړي ټول د ولسمشر لخوا ټاکل کيږي.
د سوريې ملي شورا يوه جرګه لري چې ۲۵۰ تنه يې د خلکو په خوښه د څلورو کلونو لپاره ټاکل کيږي. له دې ۲۵۰ کسانو ۱۲۷ استازي په کارګرانو، بزګرانو او دولتي مامورينو او ۱۲۳ د ټولنې په نورو اقشارو لکه سوداګرو، د صنايعو خاوندانو او ډاکترانو پورې اړه لري. په سوريه کې د رايې ورکولو سن ۱۸ کاله او رايه ورکول پکې عمومي دي.
د سوريې حقوقي نظام د اسلام پر قوانينو او مدني قانون ولاړ دی، په دغه هېواد کې ولسمشر د قضا د عالي شورا مشر او د عدليې وزير او لوی څارنوال هم وي، که څه هم د سوريې اساسي قانون قضايه قوه خپلواکه بولي، خو د قضا د عالي شورا د مشر په توګه د ولسمشر شته والی، دا خپلواکي تر پوښتنې لاندې راولي.
د سوريې د قضايي نظام په سر کې د قانون جوړولو عالي محکمه ځای لري، چې قاضي يې د څلورو کلونو لپاره د ولسمشر لخوا ټاکل کيږي. دغه هېواد د قضا عالي شورا د تميز، عالي محکمه او د دولتي امنيت محکمه لري.
ملي مترقي ګوند، د بعثت ګوند، د سوريې عربي سوسياليستي ګوند او د سوريې کمونيست ګوند د دغه هېواد مهم او نفوذ لرونکي ګوندونه دي.
سوريې د ۱۹۴٦ ز کال د اپريل په ۱۷مه له فرانسې څخه خپلواکي واخيسته او اوس هر کال همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.
د سوريې د صنعتي کيدلو لپاره د دغه هېواد د دولت له پرله پسې هڅو سره سره، اوس هم دا يو کرنيز هېواد دی. په ۱۹۷۰ ز کال کې د سوريې د اوبو بندونو نيم ميليارد مکعب متر ظرفيت درلود، په داسې حال کې چې دا شمېر په ۲۰۰۷ ز کال کې ډېر لوړ و. د دغه هېواد دولت په دغه هېواد کې د اوبو د بندونو او د برېښنا د توليد په بنسټيزو پروژو کې ډېره پانګونه کړې ده. په ۲۰۰۰ ز کال کې بشارالاسد د خپل هېواد د ټولنيز اقتصادي پرمختګ پنځه کلن پلان وړاندې کړ، چې ځينې موخې يې دا وې: د پانګونې زياتول، په بانکي سيسټم کې سمونه، د بورس بازار جوړېدل، د ټولنيز عدالت پياوړي کول، د وزګارتيا کمول، د سوداګرۍ له نړيوالې اتحاديې سره يو ځای کيدل، د صادراتو هڅول او اداري اصلاحات.
د بشارالاسد په مشرۍ د سوريې نوې واکمنۍ هڅه وکړه چې غير نفتي توليدات زيات کړي، په ۲۰۰۲ ز کال کې دا رقم څه کم شپږ بليون ډالرو ته لوړ شو او ۲۰۰۷ ز کال کې لسو بليونو ته ورسېد.
د صنايعو سکټور د سوريې په اقتصاد کې ښه ونډه لري، د دغه هېواد ټوکران، جامې، خوراکي مواد او کيمياوي توکي، د کورنيو اړتياوو پر پوره کولو سربېره، عربي او اروپايي هېوادنو ته صادرېږي. په دغه هېواد کې درون صنعت، اوسپنه، پولاد او سيمنټ په دولت پورې اړه لري، څو منځنۍ او کوچنۍ فابريکې، د زيتون پروسس، ټوکران، تار، يخچال او نور د خصوصي سکټور اړوند دي.
لنډه دا چې کرنه اوس هم د سوريې د اقتصاد پياوړی سکټور دی، صنعت پراختيا مومي، د اوبو ککړوالی ډېرېږي، خصوصي پانګه اچونه، د کرنې انرژي او صادراتي سکټور عصري کولو ته لاره پرانيزي. که د مارکيټ او بيو ستونزې نه وي، د تېلو توليد او نړيوال مارکېټ ته د دغه هېواد د غير نفتي سکټور د ننوتلو پروسه بريالۍ روانه ده. د سوريې د ګوتو په شمار اقتصادي بنسټونه، زاړه ټکنالوژيکي اساسات او د ښوونې او روزنې کمزوری سيسټم دغه هېواد ته د راتلونکو اقتصادي ټکانونو په وجه زيان رسولی شي.
اوسپنه، پولاد، د تېلو ايستل او چاڼ، ټوکران، جامې، خوراکي توکي، ګوګړ، سيمنټ، سراميک، صابون، چرمي شيان، بوټان، پلاستيک، د فاسفيټو ايستل او پروسس، تنباکو، د کوچنيو موټرونو مونتاژ، لاسي صنعت او نور د دغه هېواد مهم صنعتي فکټورونه دي.
د سوريې ۲٦ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، ۴۳ سلنه خاوره يې څرځايونو او پاتې نوره يې ځنګلونو، غرونو، دښتو، سيندونو، ښارونو او د استوګنې کليوالو سيمو نيولې ده. د دغه هېواد ۲۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۱۸ سلنه ناخالص کورني توليدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.
غنم، پنبه، وربشې، تنباکو، زيتون، چغندر، غوښه، شيدې، هګۍ، مېوې، سابه او لبنيات د دغه هېواد هم کرنيز محصولات بلل کيږي.
سوريه ۱۰٦ هوايي ډګرونه لري چې ۳۰ يې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د دغه هېواد د ټيليفون کود ۰۰۹٦۳ او د انټرنېټ کود يې SY دی، چې ټولټال يې پنځه ميليونه کسان لاسرسی ورته لري.
دغه هېواد دوه دولتي ټلويزيونونه لري چې په عربي ژبه ۲۴ ساعته خپرونې کوي او ترڅنګ يې پنځه راډيوګانې هم فعاليت کوي او د رسنيو خصوصي برخه يې د سياسي خپرونو د خپرولو اجازه نه لري.
سوريه د سړي سرکلني عايد له پلوه، د آسيا او نړۍ له پرمختلونکو هېوادونو څخه شمېرل کيږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۰ سلنه خلک پر ليک او لوست پوهيږي. په دغه هېواد کې زده کړه له ٦-۱۴کلنو ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره وړيا او جبري ده.
له لرغونو پېړيو په سوريه کې لاندې سيمې حساب وې، اوسنۍ سوريه، اوسنۍ لبنان تر ۱۹۲٦ ز کال پورې او د اردن او فلسطين ځينې برخې د آسيا د لويې وچې ډېره پخوانۍ د استوګنې وړ سيمې بلل کيږي. له ميلاد څخه ۳۰۰۰ کاله مخکې اموري سامي قوم په دغه سيمه کې داسې يو حکومت جوړ کړ، چې ۱۳۰۰ کاله يې دوام وکړ. له دوی وروسته، ارامي قوم د اموريانو ځای ونيو، له ميلاد څخه ۱۳۰۰ کاله مخکې کنعانيان، ۹۰۰ کاله مخکې آوريان، ٦۰۰ کاله مخکې بابليان، ۴۳۰ کاله مخکې فارسيان او لوی سکندر په دغه سيمه کې واک ته ورسېدل. کله چې مقدوني سکندر ومړ او د ده لويه امپراطوري وشنل شوه، سوريه د سلواکيانو لاس ته ورغله. کله چې رومي دولت پر ختيځو او لوېديځو دولتونو ووېشل شو، سوريه د بيزانس يا د ختيځ روم په امپراطورۍ پورې وتړل شوه. په اوومه پېړۍ کې کله چې حضرت عمر فاروق د اسلام خليفه و، سوريه يا شام د يرموک له جګړې وروسته چې روميانو کلکه ماتې په کې وخوړه، د اسلامي پوځونو لاس ته ورغله.
د حضرت عثمان د خلافت په وخت کې معاويه ابن ابوسفيان د شام يا سوريې د والي په توګه وټاکل شو، معاويه وروسته بيا د خپلې واکمنۍ په وخت کې سوريه د خپلې لويې اموي امپراطورۍ د مرکز په توګه وټاکله.
سوريه او افغانستان له ۱۹۵۰ ز کال څخه راپدېخوا سياسي اړيکې لري. د هغه تړون له مخې چې د ۱۹۵۰ ز کال د اکټوبر په ۱۲مه د سوريې د لومړي وزير ډاکتر ناظم القدوس او د افغانستان د بهرنيو چارو د وزير تر منځ لاسليک شو، دواړو خواوو هوکړه وکړه چې په بغداد او تهران کې به د خپلو سفارتونو له لارې نااستوګنې سياسي اړيکې ساتي.
په ۱۹۸۱ ز کال کې د اګست په ۲۹مه د افغانستان د بهرنيو چارو وزير شاه محمد دوست دمشق ته ولاړ، دواړو هېوادونو يوه ګډه اعلاميه خپره کړه او په کابل او دمشق کې يې د خپلو سفارتونو د پرانيستلو تړون لاسليک کړ. له دې پرېکړې وروسته افغانستان په دمشق کې خپل سفارت پرانيست.
له کابل څخه تر سوريې پورې د هوا له لارې فاصله ۲٦۳۴ کيلومتره او د کابل او دمشق ښارونو تر منځ د وخت توپير ۱:۳۰ ساعته دی.

همیانی

# د مالي مدیریت په اړه د رابرټ کیوساکي ۶۰ درسونه

ژباړه: حمیدالله حمیدي

رابرټ کیوساکي د هغه واټن په اړه چې د شتمنو او نېستمنو خلکو تر منځ ورځ تر بلې د پراخېدو په حال کې دی، اندېښمن و. نوموړي د پیسو د گردش په نوم یوه لوبه رامنځ ته کړه. د دې لوبې په وسیله کولای شی مالي، حسابي او د پانگونې مسایل او مفاهم ښه په اسانۍ سره زده کړی او ویې پېژنی. دغه لوبه له جذابیت سره سره ډېره ساده هم ده؛ ځکه لوبغاړو ته دا فرصت ورکوي، چې د خپلې راتلونکې لپاره داسې پرېکړې وکړي، چې راتلونکی ژوند یې له مالي تنگلاسیو وساتي. په دې لوبه کې لوبغاړي د عوایدو، گټو، زیان، حسابدارۍ او اموالو له لومړنیو مفاهمو او مدیریت سره اشنا کېږي. د کیوساکي په موسسه کې چې بل مهم شی تدریس کېږي، هغه مینه او استقامت دی. د نوموړي په یوه پیغام کې راځي: «یا د خپلو مسایلو مسوولیت پر خپله غاړه واخله او یا به د عمر تر پایه پورې د بل تر امر لاندې کار کوې». دا ستا په لاس کې ده چې غواړې د پیسو مالک او ارباب اوسې او که غلام. خپل ویده مالي نبوغ را ویښ کړئ؛ ځکه د دغه نبوغ سر را برسېره کولو ته بېخي تیار دی. وړاندې کولای شی د رابرټ کیوساکي له شپېتو درسونو څخه د خپل مالي مدیریت لپاره گټه واخلی. د نوموړي دغه شپېته درسونه په ژوند کې د بریا او د کارو بار د غوړېدو په اړه دي.

۱- له خپلو وېرو او گواښونو تېښته مه کوئ، بلکې ور سره مخ شی. که داسې وکړی، نو پر مخ به مو د یوې نوې نړۍ دروازه خلاصه شي.

۲- تحصیلي سند او مالي پوهه دواړه مهم دي، دواړه د اهمیت وړ دي، خو ښوونځي او پوهنتونونه د مالي مسایلو د ور زده کولو په برخه کې بې غوري کوي.

۳- ډېری برخه خلک له فکري اړخه ډېر تنبل دي، دوی د دې پر ځای چې نوي شیان زده کړي، پر هماغه زړو او پخوانیو نظریو او تگلارو پسې نښتي وي.

۴- که غواړی یوه نوي ځای ته سفر وکړی، داسې یو کس را پیدا کړئ، چې مخکې هلته تللی یا اوسېدلی وي.

۵- د هرې موضوع په زړه کې یو فرصت پروت دی.

٦- پیسې کټ مټ لکه د اوبو، خوړو، او سر پناه په څېر د ښه ژوند کولو لپاره یو مهم څیز دی، چې د ژوند پر ټولو اړخونو باندې اغېز کوي؛ خو له دې ټولو سره سره، هغه کسان چې په پوهنتونونو کې یې زده کړې کړې دي، فکر کوي چې نظر ټولنیز موقف ته پیسې له لږ اهمیته برخمنې دي.

۷- مینه او لېوالتیا مو هیلو ته په رسېدو، په لاره کې له پرتو خنډونو او ماتو سره د چلند ډول او د بریا کچه ټاکي.

۸- موږ ښوونځي ته د دې لپاره ځو چې زده کړو څه ډول باید د پیسو گټلو لپاره سخت کار وکړو. زه کتابونه لیکم او خلکو ته ور زده کوم چې څه ډول پیسې ورته سخت کار وکړي.

۹- هڅه وکړئ چې په خپل ذهن کې لویې هیلې وروزی، تل فکر وکړئ، د یوه منظم پروگرام له مخې مخکې لاړ شئ او واړه گامونه واخلئ، دا د پایدارې او تل پاتې بریا راز دی.

۱۰- د کمزورو او سستو انسانانو دا خوښېږي چې نور گنهگار وبولي او ملامت یې کړي.

۱۱- د شتمن او نېستمن تر منځ یوازینی توپیر له وخت څخه د گټې اخیستو په ډول کې دی.

۱۲- ستاسو راتلونکې په هغه کار پورې تړلې ده چې نن یې پر تر سره کولو بوخت یاست.

۱۳- ناکام، ناسالم او د نورو تر لاس لاندې کار کوونکي هغه کسان دي، چې تر بل هر چا د (سبا) کلمه ډېره کاروي.

۱۴- ځینې کسان د بریا لپاره یوازې د خیالونو په نړۍ کې ژوند کوي، خو ځینې نور را پاځېږي، عملاً لاس پکار کېږي او خورا ډېر کوښښ کوي.

۱۵- راتلونکې مو هغه څه نه جوړوي چې په خوله یې وایاست، بلکې دا ستاسو د وجود او ضمیر زمزمه ده چې ډېر زیات قوت ور سره دی.

۱٦- ډېری پانگه وال وړاندیز کوي چې رېسک ونه کړئ او خطر ونه منئ؛ خو شتمن پانگه وال اهل رېسک دي.

۱۷- زده کړه د بریا بنسټ دی، لکه څنگه چې زده کړې مهمې دي، دغه راز مالي پوهه او اړیکې هم خورا لوړ اهمیت لري.

۱۸- د پیسو لپاره کار مه کوئ، پیسې دې ته اړ باسئ چې ستاسو لپاره کار وکړي.

۱۹- لارښوونکي ستاسو په ژوند کې ډېر مهم دي، نو په خورا غور او دقت یې وټاکئ.

۲۰- دا مه هېروئ چې ذهن ستاسو تر ټولو لویه پانگه ده، نو د هغو افکارو په اړه ښه غور وکړئ، چې ذهن ته یې داخلوی.

۲۱- د گټونکو تکیه کلام (نن) او د بایلونکو بیا (سبا) وي. یا ویلی شو چې د گټونکو په خوله (نن) او د بایلونکو په خوله بیا (سبا) وي.

۲۲- د لغتونو په منځ کې د (سبا) لغت تر ټولو وژونکی دی.

۲۳- د بریا اصلي رکن صبر او استقامت دی.

۲۴- شتمنتوب یوازې یو نظر او مثال دی.

۲۵- که غواړی د پیسو گټلو پر لاره لاړ شی، نو د رښتیا او ذهنیتونو تر منځ توپیر ومنئ. تاسو باید واقعیت او رښتیا وپېژنئ.

۲٦- شتمن پر خپله پانگه تمرکز کوي، په داسې حال کې چې نېستمن او د منځنې پوړ کسان پر خپلو عوایدو حساب کوي.

۲۷- که میدان ته د اول کېدو لپاره نه را دانگئ او تمرین نه کوی، نو ډېره به لرې وي چې پر یوه کار پنځوونکي کس بدل شی.

۲۸- درې اساسي مالي مهارتونه دي چې هر څوک باید ور سره بلد وي:
د شتمنۍ لاسته راوړلو څرنگوالی
د شتمنۍ د مدیریت څرنگوالی
او د شتمنۍ د پانگونې څرنگوالی.

۲۹- لوی فرصتونه په سترگو نه لیدل کېږي، بلکې ستاسو له ذهن سره په اړیکه کې دي.

۳۰- که د فکر کولو ښه بدله کړی، کولای شی خپل چلند هم بدل کړی.

۳۱- ډېری کسان داسې په اسانۍ سره نه شتمن کېږي، ځکه هغوی د فرصتونو په سازماندهي کولو کې ځانگړې مالي پوهه او وړتیا نه لري.

۳۲- که غواړی شتمن شی، ښه طریقه یې دا ده چې نورو ته هم ور زده کړئ چې څه ډول شتمن شي.

۳۳- تنبل کسان یوازې پر خپلو پیسو پانگونه کوي، دا چې د نورو خلکو پر پیسو څه ډول پانگونه وکړی؛ دا بیا ځانگړی مهارت غواړي.

۳۴- کله به گټونکي وی او کله به یې زده کوی.

۳۵- بریا لکه بې تجربې ښوونکی داسې ده.

۳٦- گټونکي له ماتې نه وېرېږي، خو بایلونکي ترې وېره لري.

۳۷- زه د دې پر ځای چې په تېر پسې ونښلم، تغیر او بدلون ته مې ښه راغلاست ووایه.

۳۸- زه د احساساتي پرېکړې پر ځای د عقل او تفکر لار خپلوم.

۳۹- که ناهیلي شی او له کاره لاس واخلی، نو له مسکین پرته بل څه نه شی کېدای. ستاسو په ژوند کې تر ټولو مهمه دا ده چې یو کار وکړی. ډېری کسان شتمن کېدل غواړي، خو دوی په دې برخه کې یوازې خبرې کوي. که غواړی شتمن شی، په کار لاس پورې کړئ.

۴۰- پوهه مسایل حل کولای شي او شتمني زېږوي. هغه پیسې چې له مالي پوهې پرته تر لاسه کېږي، ډېر ژر له لاسه وځي.

۴۱- له قاطع دلیل او قوي موخې پرته په ژوند کې هر کار دشوار او ستونزمن دی.

۴۲- موږ پر لار تلل پر ځمکه له لوېدو څخه زده کوو، که پر ځمکه را ونه غورځو، هېڅکله به پر لار تلل هم زده نه کړو.

۴۳- انسان چې څومره هم د ارامۍ او امنیت په لټه کې وي، په هماغه کچه پر ژوند باندې کنټرول هم له لاسه ورکوي.

۴۴- لغتونه د ذهن ابزار یا وسایل دي؛ ځکه ذهن ته اجازه ورکوي، څو هغه څه چې په سترگو نه لیدل کېږي، درک کړي.

۴۵- یوازې خبرې کول ارزښت نه لري، تر خبرو عمل غوره دی. که غواړی یو څوک وتلی، نو د خبرو پر ځای یې عمل ته وگورئ.

۴٦- لویې هیلې په وړو گامونو سره پیل کړئ.

۴۷- اوسنی ځای ځایگی مو وپېژنئ، موخه مو مشخصه کړئ، وروسته بیا د رسېدو لپاره ورته پروگرام جوړ کړئ.

۴۸- د بدلون تر ټولو سخته برخه، په نا اشناوو کې ور ننوتل دي.

۴۹- سوداگري لاسي کراچۍ ته ورته ده، څو یې چې ټېله نه کړی، حرکت نه کوي.

۵۰- مهارتونه او وړتیاوې مو د شتمن کېدو لامل کېږي.

۵۱- هغه کسان چې په سر کې کوچنۍ هیلې لري، همداسې د کوچنیو کسانو په څېر به ژوند کوي.

۵۲- بایلونکي چې کله له ماتې سره مخ کېږي، میدان پرېږدي، خو گټونکي بیا تر بریا پورې له ماتې سره مبارزه کوي.

۵۳- په ننني نړۍ کې چې هر څه په ډېرې تېزۍ سره د بدلون په حال کې دي، هغه کسان چې له رېسک او خطر څخه وېرېږي، تر نورو ډېر له خطر سره مخ دي.

۵۴- د پیسو په نړۍ کې لومړنی مهم لغت د (پیسو گردش) یا پر کار اچول او دویم مهم لغت د (نفوذ ځواک) دی.

۵۵- که غواړی شتمن شی، نو د ډېرو کسانو لپاره کار او خدمت وکړئ.

۵٦- د تېروتنې کول؛ یانې هغه وخت را رسېدلی چې هغه نوی شی دې زده کړل، چې له دې مخکې پرې نه پوهېدې.

۵۷- پروگرام لرل، هیلو ته غځېدلی پل دی. ستاسو دنده دا ده چې ښه پروگرام ولری، ښه پل وتړی، څو مو هیلې پر واقعیت بدلې شي.

۵۸- په اوسني حال پاتې کېدل اسانه، خو بدلون سخت دی. ډېری کسان دې ته ارزښت ورکوي چې په هر حال په خپل اوسني حالت پاتې شي.

۵۹- په اصل کې هېڅ تېروتنه نشته، هغه څه چې تاسو ته تېروتنه ښکاري، په اصل کې مو له فرصتونو خبروي.

٦۰- هېڅ سوداگریز او تجارتي فرصت زیان اړوونکی نه دی، دا خپله پانگه وال دي چې ځینې شیان په خپله گټه او ځینې په زیان تماموي.

## معترضان: حکومت دې په ایران کې له خپلو اتباعو دفاع وکړي

د افغانستان د نوي څپرکي په نوم ټولنې په کابل کې د ایران سفارت مخې ته په اعتراضیه غونډه کې په هغه هېواد کې له افغانانو سره د ایراني چارواکو ناوړه چلند غندلی دی.

دغې ټولنې په یوه اعتراضیه غونډه کې په ایران کې له افغان کډوالو سره د ایرانیانو چلند غیر انساني او د دوی پر حقونو څرگند تېری بللی دی.

د یادې ټولنې مشر عبدالبصیر رښتیا په دغه غونډه کې د افغانستان له بهرنیو چارو وزارته غوښتي چې په ایران کې د خپلو اتباعو له حقونو دفاع وکړي.

هغه زیاته کړې: «د دې لپاره دلته راټول شوي یو چې له ایراني حکومته وپوښتو چې ولې تل پر افغانانو باندې ظلمونه کوي او دوی ځوروي؟ د افغانستان له بهرنیو چارو وزارته غواړو چې په بهر کې د افغانانو له حقونو دفاع وکړي او ولې یې د ایران سفیر نه دی راغوښتی او خپل شکایت یې ورته نه دی سپارلی؟»

دغه اعتراض د هغه افغان له کبله شوی چې ویل کېږي تازه په ایران کې شکنجه شوی او ممکن د شکنجې له وجې مړ شوی وي.

د دې غونډې یوه گډونوال توریالي ویلي: «د افغانانو د حقونو پوښتنه دې وشي، افغانان په ایران کې کار کوي، خو پیسې نه ورکول کېږي».

دا په داسې حال کې ده چې په کابل کې د ایران سفارت څو ورځې مخکې په یوه اعلامیه کې ویلي وو چې د هغې ویډیو او تصویرونو په اړه به چې په ایران کې د یو افغان کډوال شکنجه کېدل ښیي، پلټنې وکړي.

که څه هم د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت تازه د دغې اعتراضیه غونډې په اړه څه نه دي ویلي، خو وړمه ورځ د دغه وزارت سیاسي مرستیال ادریس زمان وویل چې دوی دغه موضوع تعقیبوي او په دې اړه له ایراني چارواکو سره په اړیکه کې دي.

هغه وویل: «د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت یوه اساسي دنده په بهر کې د افغانانو له حقونو او گټو څخه دفاع ده، تاسې شاهدان یاست چې دغه موضوع موږ د تېر په څېر تعقیبوو».

له تېرې یوې اونۍ راهیسې په ټولنیزو شبکو کې داسې یوه ویډیو لاس په لاس کېږي چې په ایران کې د یو افغان کډوال شکنجه کېدل ښیي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۱۵ |
| € | ۸۵,٦۰ |
| Rp. | ۴۹۸ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹٦,۱۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily








دوشنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۱۵مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر اوومه | ۴۴۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | ۳۲ | ۳۰ | ۲۷ | ۳۱ | ۲۶ |
| ۱۰ | ۱۵ | ۱٤ | ۱۵ | ۱۹ | ۱۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۲۹ | لمر ختل ۰۵:۵۱ | ماسپښین ۱۱:٤۲ | مازدیګر ۰٤:۰۱ | ماښام ۰۵:۳۲ | ماخوستن ۰٦:۵۵


## نړۍ



## اردوغان: ډېر ژر به د سوریې په شمال کې د«وای پي جي» ملېشو پر وړاندې پوځي عملیات پیل کړو

۳

## ملګري ملتونه: په عراق کې دې روان تاوتریخوالي ژر تر ژره پای ته ورسول شي



په داسې حال کې چې په عراق کې د لاریونونو پر مهال د تاوتریخوالي په پېښو کې د وژل شویو کسانو شمېر سلو ته رسېدلی، ملګرو ملتونو په دغه هېواد کې د تاوتریخوالي د ژر تر ژره پای ته رسېدو غوښتنه کړې ده.

دا په داسې حال کې ده چې په عراق کې له نږدې یوې اونۍ راپدېخوا لاریونونه روان دي، چې تر دې مهاله پکې ۱۰۰ کسان وژل شوي او لسګونه نور ټپیان دي.

د عراق لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې او د عراق لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړې استازولۍ مشرې جانین هینس پلسچرټ ویلي چې د دغه هېواد چارواکي د وژل شویو کسانو د وژل کېدو مسوول دي، چې باید عدالت ته راکش کړل شي.

له تېرو شپږو ورځو راپدېخوا د عراق په بېلابېلو برخو کې لاریونونه پیل شوي، چې په دې وروستیو کې پر تاوتریخوالي اوښتي. د راپورونو له مخې، په دغو لاریونونو کې په پلازمېنه بغداد او د ځینو ټلوېزیونونو پر دفترونو بریدونه شوي او د ډېرو ګوندونو دفترونه هم سوځول شوي دي.

په بغداد کې عیني شاهدانو رسنیو ته ویلي، چې په تېرو دوو ورځو کې نږدې ۵۰ لاریونوال د بغداد د صدر ښار په ختیځ الحمزه سیمه کې ژوبل شوي دي.

لاریونوال د عادل عبدالمهدي پر حکومت تور پورې کوي چې د بېکارۍ، فساد او د عامه خدمتونو د خرابوالي پر ضد په مبارزه کې پاتې راغلی او د نوموړي د استعفا غوښتنه کوي.

## د اټومي پروګرام پر سر د امریکا او شمالي کوریا خبرې بې نتیجې پای ته رسېدلې دي



د شمالي کوریا او امریکا متحده ایالتونو ترمنځ خبرې چې د سویډن په پلازمېنه ستاکهولم کې د پیونګ یانګ پر اټومي پروګرام څرخېدې، بې نتیجې پای ته رسېدلې دي.

د شمالي کوریا مشر مرکچي ویلي، په ستاکهولم کې له امریکایي لوري سره د شنبې ورځې خبرې له دې کبله بې نتیجې پای ته ورسېدې، چې متحده ایالتونو له خپل پخواني دریځ او چلند څخه لاس نه دی اخیستی. خو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاندې مورګان اورتاګوس ویلي چې د شمالي کوریا څرګندونې د هغو ښو بحثونو چې تر سره شول، محتوا او روحیه نه منعکسوي. دا په داسې حال کې ده چې د امریکا متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ او د شمالي کوریا مشر کېم جونګ اون په تېره جون میاشت کې سره کتلي وو او دواړو مشرانو د خبرو پر بیا پیلېدو هوکړه کړې وه. د دواړو لورو ترمنځ خبرې داسې مهال بې نتیجې پای ته رسېدلې، چې د ولسمشر ټرمپ اداري واک ته له رسېدو سره سم، د شمالي کوریا پر وړاندې نسبتاً نرم دریځ غوره کړی او د دواړو هېوادونو مشرانو په خپلو کې د ستونزو د هوارۍ په موخه، تر دې مهاله درې ځلې مخامخ لیدنې کړې دي. که څه هم امریکا وایي چې غواړي د شمالي کوریا د اټومي پروګرام پر سر راپورته شوې کړکېچ د خبرو له لارې پای ته ورسوي، خو پیونګ یانګ بیا ویلي چې امریکا خپلې ژمنې نه دي عملي کړې.

## سناتوران: صلح از طریق گفت‌وگوهای بین‌الافغانی تأمین شده می تواند



اعضای مشرانو جرگه، ضمن انتقاد بر سفر هیئت طالبان به پاکستان، برای تأمین صلح در کشور، بر گفت‌وگوهای بین‌الافغانی صلح تأکید می کنند.

این در حالی است که دونالد ترمپ رئیس جمهوری امریکا در ۱۷ سنبله سال روان، پس از کشته شدن یک تن از نیروهای امریکایی در حملهٔ طالبان در کابل، گفت‌وگوهای نُه ماههٔ صلح میان امریکا و طالبان را متوقف کرد.

زلمی خلیل‌زاد نماینده ویژه امریکا برای صلح افغانستان، پس از توقف گفت‌وگوهای امریکا با طالبان، دو روز پیش برای نخستین بار با نماینده گان این گروه در پاکستان دیدار کرده است.

اما دیروز در نشست مشرانو جرگه، روی این موضوعات بحث شد.

محی الدین منصف نماینده مردم کاپیسا در مشرانو جرگه، گفت: « باز طالبان علاقمند شده اند که صلح کنند، باز در یک کشور دیگر مذاکره می کنند، این نتیجه نمی دهد، ابتدا آتش بس شود و پس از آن طالبان وادار ساخته شوند که با حکومت افغانستان مذاکره کنند».

انارکلی هنریار عضو دیگر مشرانو جرگه هم نتیجه مذاکرات طالبان را در پاکستان ناکام خوانده گفت: «ما منتظر استیم که نتیجه انتخابات معلوم شود و رئیس جمهور جدید ما در رابطه با مذاکرات صلح با طالبان تصمیم بگیرد».

محمد نادر بلوچ نماینده مردم نیمروز در مشرانو جرگه، با انتقاد از سفرهای متعدد خلیل‌زاد به کشورهای مختلف پیرامون صلح افغانستان گفت که خلیلزاد، نُه بار به کشورهای مختلف سفر کرده است؛ اما این سفرها جز اینکه جنگ را در افغانستان بیشتر سازد، دستاورد دیگری در پی نداشته است.

او ضمن ابراز نگرانی از تلفات ناشی از جنگ در افغانستان گفت که نباید گفت‌وگوهای صلح در خفا انجام شود.

## ژوند

## مثبت لیدلوری ژوند اسانه کوي


د مثبت او منفي فکر کولو په اړه به مو تر اوسه ډېر اورېدلي وي. د یوې ښځې کیسه مې اورېدلې ده چې خپلې کوټې ته یې شپږ فوټه اوږد شین بوټی راوړی و. هغه د بوټو او ګلانو مینه واله وه. د کور هره خوا یې بوټو او ګلانو نیولې وه. د بوټو او ګلانو په روزنه کې یې ښه وړتیا هم لرله، خو یوه ورځ سهار وختي کله چې له خوبه را پورته شوه، له ځان سره یې وویل:

دا نوی بوټی به ډېر دوام ونه کړي، مړاوی به شي او له منځه به لاړ شي. په همدې منفي فکرونو یې سهار پیل کړ او پکې ډوبه شوه. دغه فکرونه یې بیا بیا په ذهن کې تکرار کړل. هغې دا خبره ان له خپل مېړه سره شریکه کړه، سربېره لکه چې په دې بوټي مو هسې خوشې پیسې ورکړې، فکر نه کوم ژوندی پاتې شي.

مېړه یې ورته وویل، دا ته څه وایې، تر اوسه دې کوم ګل او بوټی وچ شوی چې دا به وچ شي؟ څو اونۍ وروسته ورو ورو د بوټي پاڼې مخ پر ژېړېدو شوې او څو ورځې وروسته یې ټولې پاڼې ورژېدې. په پای کې څو اونۍ وروسته بوټی په بشپړه توګه وچ شو.

موده وروسته ښځې د هماغه وچ شوي بوټي په اړه فکر کاوه، لکه چې دا بوټی مې په خپل لاس او منفي فکرونو وچ کړ. ښځه وروسته پر خپل دې کار ډېره خپه وه او یو ډول د ګناه احساس یې کاوه. کله چې مو په ذهن کې منفي فکرونه ځي و راځي، په یو ډول مو ایمان هم ورسره کمزوری کېږي.

ذهن مو له مثبتو فکرونو ډک کړئ. موږ باید زده کړو چې که مو ذهن له مثبتو فکرونو ډک کړ، د منفي فکرونو لپاره به هېڅ ځای پاتې نه شي. ستاسې ذهن ډېر لوی دی، اوس مو هم د ذهن ډېرې کوټې ډکې دي او ډېر تش ځایونه هم پکې شته. همدا نن پرېکړه وکړئ چې ځینې




پاک کارې او بدلونونه پکې راولی. تش ځایونه په مثبتو فکرونو ډک کړئ او په ډکو ځایونو کې هم یو څه سپړنه وکړئ، منفي او ناروغ فکرونه ترې لرې کړئ. زه نه وایم چې پر رښتینو منفي خبرو سترګې پټې کړی او داسې فکر وکړی چې اصلاً داسې کوم څه نشته. زه وایم تمرکز مه پرېږ کوئ او مه پرېږدئ چې ذهن مو تسخیر کړي.